# د ګوهر خان خټك قلب السير

د خوشحال خان په زامنو کي موږ ګوهر خان دمخه لا پېژندلی دی، دی د خان په فاضلو زامنو کي د قلم خاوند او شاعر او اديب سړی تېر سوی دی.

ګوهر خان لکه خپل وروڼه عبدالقادر خان، اشرف خان هجري،
سکندر خان د خټکو د علم او هنر په درنه کورنۍ کي د خپل پلار
خوشحال خان تر سيوري لاندي د پښتو ادب په سمسور بڼ کي پالل سوی او د پښتو منثور او منظوم آثار ځني پاته دي، او د پښتو ادب په تاريخ کي ښه مقام لري.

دمخه ماته د ګوهر خان کوم کتاب يا دېوان نه وو معلوم، نو
ځکه مي د پښتانه شعراء په لومړي ټوك کي د ده آثار او اشعار ضبط
نه کړل او بيا مو هم د خوشحال خان د درنې کورنۍ په ادبي ارکانو کي د ده نوم نه واخيست، او تر اوسه د دغه هنر من ليکوال او شاعر آثار
چا ونه پېژندل.

څوکاله مخکي ما د پښتونستان د پېښور په موزيم کي د ګوهر خان
يو ورك کتاب وموند چي په دغو کرښو کې د پښتو ادبي پلټونکو ته
معرفي کوم :

دا ورك کتاب قلب السير نوميږي تقريباً (٤٠٠) پاڼي او اته سوه مخه دی، غټ او پنډ کتاب دی. موضوع يې د حضرت پيغمبر سير او احوال او غزوات دي، دېرش بابه لري د حضرت رسول اجداد او انساب او د ده د عمر سوانح له تولده تر وفاته پوري په تفصيل بيان سوي او بيا د راشدينو خلفاوو احوال او د قيادت علامات او د حشر او نشر او صراط او جنت او دوږخ بيانونه لري. او هر ځای د خپل شعر رباعی او قطعات او غزل او قصايد د نظير په ډول راوړي. د دې کتاب په ترتيب او ليکنه کي عربي او فارسي کتابو ته حوالې سته او د محمد بن اسحاق روايات رانقلوي او نور مآخذ يې دغسي کتابونه دي : تمهيد المعرفت، اخبار الآخرت، لطايف قصص، مصابيح، مشارن، صحيحين او نور نور ...

د کتاب املا د خټکو د پښتو املا سره برابره ده، خط يې نستعليق دی او داسي په حمد و نعت شروع کيږي :

حمد بيحد او ستايش بيعدد د هغه پيدا کوونکي چي کسوت د وجود د عالم د ده له کامل قدرته دی، شکر سپاس بېقياس د هغه پروردګار چي حليت د عقل د بني آدم د ده له انوار حکمت دی. هغه پادشاه چي دشمنان په صاعقه د بعد، له خپله دره دورکا، او دوستان په جرقه تقرب لکه موسی په طورکا. وجود د ده مقارن د زمان نه دی او ذات د ده مقابل د مکان نه دی.

په خپل قدرت بې علت يې اوه آسمانه مدور کړل، او په چهره يې د خاورو لك در لك بدايع او صنايع مصور کړل، د جمله مخلوقات يې بنی آدم برګزيده کړه او له بني آدم نه يې انبياو ته صلوات الله عليهم رفعت او درجهٔ رسالت ورکړ، او له همه وو نه يې پيغمبر زموږ صلی الله عليه وسلم په مزيد منزلت او کرامت مخصوص کړ، ختم د نبوت يې په ده وکړ او رتبت يې د دعوت ثقلين، خاص و ده ته عنايت کړ. فلاح يې د عالميانو د
ده په متابعت کښې کړه افعال يې د ده مفتاح د سعادت ځموږ کړ، اقوال يې د ده سبب د هدايت ځموږ کړ، درجه

کمال چي چا بیا مونده په سنت يې د ده اقتداء وکړ، او اعتراف او اقبال يې د، هغه چي په سيرت يې د ده همتا اوکړ، صد هزار صلوات تحيات زکيات په روضهٔ مقدسه منوره د ده همېشه اوسه.

حمد و ثنا د باری تعالی او نعت ستايش د محمد رسول الله صلی الله عليم وسلم هونبره نه دی چي کله د جمله مخلوقات هر وېښته په تن ژبي سي، په دا هونبره ژبو تر قيامته په ستايش د ذات د صفات ګويا سي په مثال به له دريابه څاڅکی حاصل نه کا، دا قصيده په ثنا د باري تعالی

جل شانه، او په نعت د سرور عالم صلی الله عليه وسلم او د ده د اصحابو او په مناجات د پروردګار وته په خپل موافق د قدر بيان کړې ده :

قصيده

که وېښته يي په تن ژبي صد هزار سي
بيا ثنا د حق پرې څو رنګه تکرار سي
هم مي عمر سي په زر لکه کالونه
د بيحد ثنا بېعده نه به شمار سي
که سياهي قمر درياب سي نور سيندونه
يا قلم د جهان ګُل واړه اشجار سي
که کاغذ سي د اوو مځکو مخونه
بيا پر يو صفت رقم د لوی دا دار سي
دا به واړه سي تمام کاغذ به تور سي
ناتمام به وي که زر ځليه درکار سي
نه د خيال د عقل کار سته ستا و ذات ته
انبيا دي سرګشته په دا اسرار سي
څه عجب خرګاه يې روغ کړ بې ستونه
پکښي نور کاروڼ ... رفتار سي (۱)
څه عجب فرش ترو لاندي غوړولی
بيا پر جوړ جبال، اشجار، دريا، ثمار سي
ډېر تاثير يې په مهتاب آفتاب کي يښی
هم له نوره يې روشن ليل و نهار سي
رنګ او بوی ګل د مهتاب په تاثير اخلي
رنګ په رنګ چي راښکاره په نوبهار سي
رنګارنګ فرزندان وزيږوي مزکه
چي په وقت د نوبهار باندي امطار سي
بې حسابه ستاره چي په آسمان کښي
د خفتن په وقت همه در اظهار سي
همه واړه سرګردان دي په خدمت کي
خالی نه دی يو زمان چي دوی بېکار سي

تر سما سمکه پوري چي پيدا دي
هم هغه کا چي پرې حکم د قهار سي
په قيام ورته شجر په سجود ويني
په هو هو يې په تسبيح واړه دمدار سي
يو قالب کا د څلور عنصرو جمع
بيا د ده په امر روح پکښي انبار سي
له يوه څاڅکي اوبو د مور په نس کي
جوړ صورت کا هر اعضا باندي تيار سي
غاښ او سترګي، پيزه غوږ او خوله يې وګوره
لاس و پښې ګوتي چي درست سره نګار سي
تمامي جهان ثابت ځما په تن کښي
دا صنعت به په يوه پروردګار سي
د چا زړه په معرفت په علم پور کا
څوک کافر کاندي محکوم لايق د نار سي
په صخره کښي رزق روزي رسي چمجي ته
بېهوده سړی د رزق روزي غم خوار سي
محمد يې کړ پيدا له خپل نوره
عرش و فرش يې کړل روشن په دا انوار سي
دی سلطان دی اولعزم د انبياوو
د آدم او د حوا پرې افتخار سي
په جهان د صفې زوی راغلې ښکاره سوې
نو دتا د همه کل پيدايش پلار سي
ستا کمال صفت به څوک نه کا ته سره
که سړی، پېری همه کار په ګفتار سي
د سرور صفت مي وکا په خپل قدر
څه خو لږ صفت يې اوس د چهار يار سي
د سرور اصحاب همه دي لکه ستوري
تحيات له موږ په واړو په بار بار سي
اقتديتم اهتديتم دا حديث دی
ورك به سي چي هر څوك نه د دوی په لار سي
پس د دوی له ثنا رب ته مناجات کړم
که قبول دا مناجات ځما خوار زار سي
په حرمت د پاك نبي د چهاريارو
که مي دا ويل قبول ستا په دربار سي
د شيطان له وسوسو نه يې وژغوره
چي مي زړه مشغول همېش ستا په اذکار سي

تل مي ژبه په رشتیا ویل عادت کړه
دین ته ښه په وینا قدر اعتبار سي
بد عادت او بدګویي له ما واخله
چیري نه چي مي په ژبه څوك آزار سي
ذمیمه خویونه لیري کړې له ما نه
چي آواز مي په جهان د نېك کردار سي
د دنیا په محبت مي اخته مه کړه
هر چي مینه په دنیا کا ناهنجار سي
په سخات کښي مي مشهور کړه په دنیا کښي
چي دا خوی عالي لري هغه کبار سي
توکل، شجاعت دواړه و ما راکړه
په دا دوه خویه کښي ډېر سړی رویدار سي
بل توفیق د تقوی راکړه په دنیا کښي
تل نزول د خدای رحمت پر پرهېزګار سي ...

د دې قصیدې په پای کي وایي :

ښه یې وپېیل ګوهر په تار د نـــــــظم
آفرین دي پر دا هسي شان اشعار سي

تر دې حمد او نعت او قصیدې وروسته ګوهر خان د قلب السیر د تالیف سبب داسي ښیي :

تالیف دکتاب :-

دا چي اکثر کتابونه له عربي پارسیانو بزرګانو و خپل عالم و ته چي په تازي ژبي کښي به یې فهم پرې ښه نه کېده، فارسي یې د دوی لپاره ترجمه کړل، سهولت یې ښه وشه، مینه به یې پرې ماته کړه، مطالعه به یې کړه، ډېر کتابونه د فقه د مسایل د اخلاق و غیره بزرګانو فارسیانو بیان کړل چي معلوم دي.

په پښتو کښي دا رواج نه وه، اخوند دروېزه یو کتاب مخزن ویلی دی، حق تعالی دې وبخښي، اکثر خلق ترې فیض بیا موند، بیا د موړه پلار مرحوم خوشحال ختك الله تقدس و تعالی دې پر قبر نور کا، هر ګونه کتابونه تصنیف کړل، داد یې د بلاغت و فصاحت د پښتو ژبي ورکړ، فارسي وته یې په لذت نژدې کړه، غزل، رباعي، مخمس، ترجیع بند، ترکیب بند و غیره صنایع شعر یې وکړه د فارسي د شعر رواج یې و پښتو ورکړه، په عروض په قافیه یې درست ووې، د نظم و نثر یې ښه کتابونه بیان کړل. چي خود په عالم مشهور دی. اګر چي پښتو ژبه په علت د دو رنشینۍ هونبره لذت نه لري، چي عربي فارسي سره نسبت سي، لیکن از راه ضرور پښتنو ته هم په پښتو ویل بهتر دي او سنت الهی هم په دا جاری دی، هر کتاب چي به نازلېده هم د هغه قوم په ژبه به نازل شو، دا په دا چي د هر چا په خپله ژبه فهم کیږي. رباعي :

دوه یاران چـــــــــي راز د زړه تر بله نمـــایي
بایده دی چي په خــــــــپله ژبه وایـــــــــــــي
د فارسیانو کن مکن ویل څه ســـــــــود کا
پښتنو ته کـــــــــــړه مه کړه ویل ښه ښایي

نور بل سبب دکتاب دا وه :

چي افضل خان زوی د اشرف خان مرحوم نمسی د خوشحال خان خټك كړلاڼی غفرالله له چي سن زر سل شل دی، د پلار و نیکه په ځای قایم مقام دی، ښه سرداري لري، نظر يې په نېكنامي په آباداني دی، په دا قحط الرجال دی غنیمت دی، اللهم تزد احسانه، حق تعالی دې شرم وساتي، نور سعیه کا، د پښتو کتابونه له هره قسمه لکه فارسيانو کړي دي مرتب شي. د نیکه شعر يې واړه په بیاضونو هر ځای متفرق وه، د ده په تلاښ چي څو موده په دا سعی کښي وه، له هر چا به يې جمع کړ، دېوان يې مرتب کړ. بلکه کلیات د شعر يې څه وه، په نظم، نثر لکه دستار نامه، فراق نامه، فضل نامه، دېوان و غيره کتابونه يې واړه په کاتبانو په څو څو ځله وکښل، په اطراف به يې د شهرت لپاره و هر چاته استول، حق تعالی يې توفیق د نېکۍ رفیق کړه، په مجلس کښي به يې همېشه ویل، چي که د چا په طبیعت قوت وي چي پښتو کتابونه له فارسيانو له عربي په فارسي ترجمه کړل، څوك يې له فارسي په پښتو ترجمه کاني. و ماته به يې اکثر اوقات مخ را جاريوست، اگر چي ځما قوت هونبره نه وو لیکن چي نظر مي په تضییع د اوقات وکړ ومي لیده چي عمر گرانمایه ضایع درومي، په هر حال مي و دې محنت وته ملا وتړله، نور مي اکثر د کتابونو مطالعه کړه چي که یو کتاب چي په قال او حال مضبوط او معتبر دی، له فارسي ژبه نه يې په پښتو ترجمه کړم. دا کتاب مي بیا موند، چي نهایت په افعال په قال د موږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم پخته او معتبر وه، چي تعریف يې د پختگۍ مصنف په فارسي کښي نهایت طولاني کړی دی، چي که په دا کتاب کښي يې راوړې گنجایش (نلري) نور يې شغل ورسره واخیست چي دا شغل هم عظیم نعمت دی، له فارسی په پښتو ژبه ترجمه کړ نوم يې قلب السیر کښېښ شو، نظم :

دا کتاب په پښتو ژبه غـــــــــــنیمت دی
په لوستوني يې نازل د خدای رحمت دی
چي يې لولي یا کښېنه ما دي یـــــــــادکا
په تکبیر په فاتحه مي دي ډېر ښـــــادکا

دا کتاب گوهر خان له فارسي څخه په پښتو د (۱۱۲۰ هـ) په حدودو کي ترجمه کړی دی، او له لوړه بیانه داسي ښکاري چي گوهر خان د خپل ورارہ افضل خان خټك په خواهښت په دې کار لاس پوري کړی دی.

افضل خان پخپل د ادبي لوړ ذوق خاوند وو تاریخ مرصع، او پښتو کلیله و دمنه علم خانهٔ دانش د ده ښکلي تاریخي او ادبي آثار دي (د علم خانهٔ دانش پر خطي نسخه باندي به زه په آینده کي بحث وکړم.) د قلب السیر له لوړي مقدمې څخه دا هم ښکاره سوه، چي د خوشحال خان د اشعارو دېوان په خپله خوشحال خان نه وو راټول کړی، بلکي دا کار هم افضل خان کړی دی، او له بیاضو څخه يې د خپل نیکه مختلف اشعار راټول کړي او د دېوان په شکل يې لیکلي دي.

داسي ښکاري چي افضل خان د خوشحال خان د دېوان د راټولوني او لیکني لپاره په اکوړه کي خاص کاتبان کښېنولي وو، او د دغه دېوان ډېري نسخې يې لیکلي وې. ما په خپله درې داسي نسخې لیدلي دي چي د افضل خان په امر په اکوړه کي کښلي سوي وې، او یوه نسخه يې اوس د کابل د مطبوعاتو په کتب خانه کي سته، او ما چي په کندهار کي لومړی پلا د خوشحال خان بشپړ کلیات چاپ کی یو ماخذ مي دغه نسخه وه.

د خوشحال خان تر نثر وروسته د ده په زامنو کي د عبدالقادر خان گلدسته او د گوهر خان دغه قلب السیر ډېر مغتنم آثار دي چي وروسته د افضل خان مرصع او علم خانهٔ دانش درېږي.

د پښتو ادب پلټونکو او د تاریخ ادبیات تکمیل کوونکو ته دا ښايي چي گوهر خان ته د نظم او نثر په تاریخ کي خپل مناسب ځای ورکي، نو زه د ده د شعر او نثر نمونې لاندي لیکم، چي د ښاغلو پلټونکو لپاره تیاري وي، او گوهر خان پس له دې دغسي نوم ورکی پاته نه سي :

رباعي

مال چي دي وخوړ هم هغه ستـــــا دی
چي له تا پاتو شي، نور د نور چـا دی
که دي څه وښنده د خدای په لـــــوري
مال دي هم دا دی، مال دي هم دا دی

دا رباعي که د خوشحال خان او هجري او سکندر په آثاروکي نه وي راغلې، نو ضرور به د ګوهر خان وي اما دغه غزل خو یقیناً د ده ده :

چي په مهر دي نظر شي هر انسان ت (۲)
په بهانه بڼانه یې وبولي خپل ځان ت
چرته فارس چرته به شام یا مدینه وه
چي دي وښیله راسته لار سلېمان ت

مجوسي آتش پرست یار د احمد کړې
چي هیڅ نه رسیږي عقل وګمان ت
عجمي له اهل بیت سره حساب کړې
سکه تره د احمد خوشي کړې شیطان ت
په مکه کښي یو لهب څرنګ ګمراه کړې
له ملکونو سلمان راولې ایمان ت
بوالحکم د مکې څرنګ دوزخي کړې
له حبشه بلال ور ولې رضوان ت
ځای د دم وهلو نشته هر څه کاندي
حیراني ده په هر کار کښي و سبحان ت
و خاکي بنده ت څو مراتب ورکړی
د ملك غوندي ئې ګښت وشي اسمان ت
شفیع کړی مي سلمان ته د ستا و در ت
ما "ګوهر" ایمان دار بیایه بل جهان ت

د ګوهر خان د نثر یوه نمونه :-

پنځم غزا د بدر الکبرا ده، او د دې غزائي په دا سبب بدرالکبرا نوم کښېښ، چي اوله فتحه چي اهل اسلام وته ظاهره سوه دا غزا وه.

په دغه ورځ صنادید د قریشو یعنی کنخدایان د قریشو په قتل ورسېده او مهتران یې اسیر بندل شول، او دا حکایت داهسي وه چي چا خبره و مدینې وته راوړ چي ابو سفیان بن حرب د قریشو له قافلې سره د شام له لوریه ګذرګاه په لور د حجاز درومي. ډېر خلك او ډېر مال ورسره دی.

چي پیغمبر  وته یې خبر راوړ، مهاجران او انصار یې راوبلل ورته یې ووې چي ای ځما اصحابو ! وقت

هسي دی چي لينده د رجليت په بازو کي کښي د مردئ واچوی، د کفارو جهات ته ملا چست و چالاك وتړی، کوښښ کانږی تر هغه پوري حق تعالی دار د اسلام له اهل شرکو واخلي او نصرت د دين حق ورکا. اوس دا دی ابو سفيان بن حرب چي سره د مشرکانو دی د قريشو له قافلې سره تيريږي، مال بسيار له عدد بې شمار له ده سره دی راشئ چي په غزا د ده ورووزو يا به بيا مومو ظفر او غنيمت يا به مشرف شو په غذا په شهادت.

رباعي

په دواړو لوريه مه بخت سعـــــادت دی

که پکښي ومري ځـــای مه (٣) جنت دی

که ظفر بيا مومی کــــــــــــفارو باندي

موجود و تاشي (٤) حـــلال دولـــت دی

نور واوړو صحابه وو عرض وکړ چي زر ځانونه ځمونږ د خدای د رسول صلی الله عليه وسلم تر حکم فدا شه، هر چه څه راته فرمايي او حکم کړي، حکم روا او فرمان بردار يو. نور پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل چي ترتيب د جهاد کانږئ. ترتيب يې د جهاد وکړ. تېر (٥) سو ديارلس ځوانان له پيغمبر صلی الله عليه و آله وسلم سره په غزا له مديني وه وتل، او ما بقيه وو چي تخلف وکړ، په دا سبب چي پيغمبر صلی الله عليه و اله وسلم به له قريشو سره جنګ ونه کا، په دا سبب چي د ده عزيزان دي. پس چي پيغمبر صلی الله عليه و آله وسلم له مدينې وه ووت، ابو سفيان په خپله خبرداري کړه خبر يې آخست. اول يې دا کار وکړ چي همېشه به د پيغمبر صلی الله عليه و آله وسلم د ده اصحابو نه خبرګيران وه او سور يې د خبرو دپاره و مدينې وته استولی وه، چي هغه سور و مدينې وته ورسېده وپوهېده چي سرور عالم صلی الله عليه وآله وسلم له اصحابو سره له مدينې په قصد د ابوسفيان د کاروان وتلی دی.

هغه سور په هغه ورځ له مدينې بيا وجاروت، بيا يې په تاخت لاړ توقف يې چرته ونکړو، قافلې ته ورسېده، ابو سفيان يې خبر کړ چي محمد خود په قصد ستا د قافلې راوتلی دی، اوس تدبير د خپل کار چي پوهيږې هسي کړه. نور د ابوسفيان ملاحظه وشوه، زر يې يو سور تندرست چابك دست طلب کړو مکې وته يې په بېړه واستوه چي قريش راخبر کا، له لښکره سره د قافلې دمخي ته راشي. و ده وته وصيت وکړ چي و قريشو وته ووايه چي که تاسي توقف وکړ او لشکر مه (کذا) زر را روان نکړ اميد له خپله ماله قطع کانږئ، چي محمد له ډېره لشکر سره قصد د کاروانه لري.

نور هغه سور ډېر ګړندی لاړو مکې ته او پخوا تر د هغه سواره چي لا دی و مکې و ته رسېدلی نه وه عاتکې ترور د پيغمبر صلی الله عليه و آله وسلم خوب ليدلی و چي شرح د هغه په دا رنګ ده ... ( د قلب السير له قلمي نسخې څخه)(٦).

## لمن ليکونه

۱. دلته دوه توري نه ويل کيږي چي پر ځای يې ټکي کښېښو سول.
۲. موږ اوس ضمير مخاطب (ته) او دغه د انتها ادات (ت) دواړه يو راز ليکو، که دغه ادات له (ته) ضميره جدا کړو، او (ت) يې وليکو، لکه په قديمو املاوو کي چي وو، دا به ښه ګڼه وي؟
۳. د (مو) جمع متکلم ضمير په اصل نسخه کي (مه) ليکل سوی دی.
٤. په اصل کي داسي دی اوس يې (تاسي) ليکو.
٥. په اصل کي دغسي دی مطلب درې سوه ديرلس دي.
٦. وږمه مجله، ۱۳٤۱ ل کال، څلورمه ګڼه، ۱۱ _ ۲۰ مخونه.